مطبوعاتي اعلامه : د څارنې او ارزونې کمیټې د دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ له لارې په خپل ځانې اعتماد په وړاندې شویو ژمنو کې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې اړوند د ژمنو د کمښت په اړه خپلې اندیښنې څرګندې کړې.

کابل، افغانستان، ۱۳۹۵ تله ۷ – آیا افغانستان له اداري فساد څخه پاکیدای شئ؟
ستونزمنه ده، د هغو ۲۵ طرحو څخه چې راتلونکي اونۍ به د بروکسل په کنفرانس کې پرې هوکړه وشي یوازې یو یې د اداري فساد ضد کړنې ته راجع کیږي او له دې څخه دا مالومیږي چې دا کوم لومړیتوب نه دی.
د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه له دې غوره عمل کولای شي.
نړیوالې ټولنې او افغان حکومت د یو شمیر لنډ مهاله طرحو څخه یوه نوې مسوده جوړه کړې ترڅو له SMAF (د دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ له لارې په خپل ځانې اعتماد) همغږی شي. دا به له هغو هوکړه لیکونو سره یوځای شي چې د افغانستان په اړه له بروکسل کنفرانس څخه صادریږي او دغه کنفرانس به د ۱۳۹۵ کال د تلې په ۱۳ او ۱۴ نیټو دایریږي.

دغه مسوده ۲۵ طرحې لري چې د راتلونکو ټاکنو لپاره کوټلي ګامونه، د بښنې لپاره ځانګړې محکمې، د مرستو اغیزمنتیا د لاښه والي لپاره کړنې رانغاړي. دا د هغو ۳۹ طرحو ځای نیسي چې د ۱۳۹۴-۱۳۹۵ لپاره پرې هوکړه شوې وه. (۱ یادښت ته مراجعه وکړئ)

سره له دې چې د اداري فساد کمولو د مرکزي ارزښت په اړه افغان حکومت او نړیوالې ټولنې پیاوړي احساسات بیان کړي، دغه طرح یواځې یو اقدام داسې لري چې په نیغه توګه د اداري فساد کمولو ته رجوع کوي.

د اداري فساد د کمولو په اړه د نړیوالې ټولنې له خوا ژمنو لپاره کومه سرچینه هم نشته. دا هغه دوه اړخیزه ځانې اعتماد نه دی چې نوموړی چوکاټ یې په اړه خبرې کوي.

د څارنې او ارزونې کمیټه (MEC) لاندې د یو شمیر ځانګړو ژمنو وړاندیز کوي چې په څرګنده توګه به د بروکسل کنفرانس لپاره جوړ شوی چوکاټ پیاوړی کړي.

مونږ په افغان دولت او نړیوالې ټولنې باندې زړغ کوو چې د بروکسل کنفرانس کې ۱۳۹۶ کال لپاره د لنډ مهاله ژمنو یوه پیاوړې مجموعه منظور کړي.

د اداري فساد ضد یوه اوسنۍ طرح
په ۲ ګڼه ژمنه کې وړاندیز شوی ځانګړی اقدام په لاندې ډول څرګندونه کوي:

"د افغانستان د حکومت لپاره د اداري فساد ضد ستراتیژۍ د قانون د حاکمیت او له اداري فساد سره د مبارزې د عالي شورا شورا له لورې د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نیمایي کې طرح او توشیح کیږي او د ۲۰۱۷ کال په دویمه نیمایي کې یې پلي کیدل پیل کیږي. په ۲۰۱۷ کال کې د عوایدو تولیدونکي ۵ وزارتونه د اداري فساد ضد خپلو کاري پلانونو د پلي کیدو د پرمختګ په اړه عامه رپوټ ورکوي."

ددې بیانیې لومړۍ برخه، چې د قانون د حاکمیت او له اداري فساد سره د مبارزې د عالي شورا په اړه ده، یوه ډیره لوړه هیله ده. که څه هم حکومت د ۲۰۱۶ کال په جون کې د دغه شورا جوړه کړه، خو بیا هم دغه اداره ددغې ژمنې د پلي کیدو لپاره خپل ځان ته د ۲۰۱۷ کال تر نیمایي پورې وخت ورکوي

د دویمې برخې په اړه، د طرحو مخکینۍ مجموعه کې ۵ وزارتونه دي ته اړ وو چې د ۲۰۱۵ کال تر پای پورې خپل پلانونه چمتو کړي. تر دې مهاله پیوازینۍ طرح په ۲۰۱۷ کال کې د پرمختګ په اړه عامه رپوټ ورکول دي. (د څارنې او ارزونې کمیټې په دغو پلانونو باندې په جلا توګه توضیحات ورکړي دي. ۲ ګڼه یادښت ته مراجعه وکړئ)

د لانورو مالوماتو لپاره، د څارنې او ارزونې کمیټې سره په 871 515 797 (0) 93+ اویا contact@mec.af/ سره په اړیکه شئ. او ځمونږ فیسبوک پاڼه (mec.afghanistan) وګورئ. www.mec.af

د اداري فساد ضد اړونده غوره ژمنې

1. د نورو وزارتونو له خوا د اداري فساد ضد پلانونو په اړه څه نظر لرئ؟ په حياتي او مهمو برخو کې د خدمتونو وړاندې کونکو وزارتونو لپاره د اداري فساد ضد پلانونه هيڅ د ژمنو په توګه نه دي ياد شوي. په حقيقت کې، د عامې روغتيا وزير اوس مهال د اداري فساد ضد ريښتيني ستراتيژۍ په چمتو کولو کې ډير فعال دی. د ښوونې وزير هم دي ته ورته کار پيل کړی چې د جوړولو لپاره يو ښه اساس دی نو له دې امله د څارنې او ارزونې کمیټه د بروکسل کنفرانس باندې دداسې يوې ژمنې اضافه کولو لپاره ږغ کوي چې د ۲۰۱۷ کال نيمايي پورې بايد هغو وزارتونو لپاره د اداري فساد ضد ريښتيني پلانونه موجود وي چې عمده اتباع ورسره مخ کيږي او د ۲۰۱۷ له نيمايۍوروسته يې د پايلو خپرول پيل شي.

2. له اداري فساد سره د مبارزې پلانونو ته دوام ورکوو، د هغو وزارتونو له لوري د اداري فساد ضد پلانونو وضعيت څه دی چې په ځانګړې توګه د اجراآتو مديريت اقداماتو معرفي کولو ته اړتيا لري؟ (د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د کورنيو چارو وزارت، د سيمه ييزو ارګانونو خپلواک لوی رياست، د احصايې مرکزي دفتر، د تفتيش عالي اداره)
3. په لويې څارنوالۍ کې پياوړي اصلاحات روان دي خو تر اوسه ددې ژمنو برخه نه ده. ددې موضوع په اړه بايد يوه طرحه موجوده وي.

4. **د چارواکو له خوا د شتمنيو د ثبت** په اړه پرمختګ اړين دی. خو د شتمنيو د ثبت اسنادو د کيفيت کتلو يا د شتمنيو د صورت حسابونو تثبيت کولو په اړه لږ يا هيڅ پرمختګ نشته. يوې ژمنې ته به په اسانۍ سره اړتيا وي چې د څارنې عالي اداري له خوا پياوړي اقدامات وهڅوي.

5. **د ولسي جرګې غړو او د ولايتونو واليانو له خوا د شتمنۍ ثبت** پورې اړونده يوې ژمنې ته اړتيا ده؟ ډير کم شمير يې د شتنميو د ثبت شرايط پوره کړي (د ولسي جرګې ۲۵۹ غړو څخه يوازې ۲ تنو يې پوره کړي) (۳ يادابښت وګورئ)

6. د **پانګونې** پياوړي کولو په برخه کې – چې د عوايدو توليد لپاره يوه مهم ساحه ده، د فساد اړونده کړنې هم بايد راونغاړي – يوازينۍ اړونده طرح دا ده چې د پلان هدف بايد د ۲۰۱۷ کال تر نيمايي پورې د اقتصاد عالي شورا له خوا په يوه ازاده غونډه کې منظور او بحث وربانديې وشي. دا يوه ډيره معتدله طرح ده. دا کيدای شي هغو سکټورونو لپاره پياوړي شي او يا نور هم مشخصه شي کومو کې چې ډيرې پرمختګ شته.

- **د اداري فساد سيستماتيک زيانمنني د مخنيوي لپاره د ملکي خدمتونو اصلاح ډيره مهمه او اړينه ده، خو د ظرفيت جوړونې () او د ملکي خدمتونو د ښځينه کارکوونکو پروګرامونو پرته په دغو ژمنو کې په دې برخه کې هيڅ څه روښانه نه شته..** ولسمشر يواځې په دې وروستيو کې دغه موضوع بيا ياده کړه او ويې ويل چې " د ملکي خدمتونو نيول" يو د اداري فساد څلورو بدلونکو څخه دی. په دې اړه ژمنه د بيلګې په توګه کيدای شي دا وي چې، اصلاحي اقدامات دې په جدي توګه د ۲۰۱۷ کال په جنورۍ مياشت کې پيل شي او بايد داسې ځانګړي اصلاحات راونغاړي چې د اداري فساد زيانمنو کې کمواليې باندې متمرکز وي؟

- **د اداري فساد ضد د عدالت اوسنۍ مرکز (ACJC)** نه دی ياد شوی. په دې اړه ژمنه کيدای شي په کال کې د دوسيو يو شمير يا د ترلاسه شويو دوسيو مقابل کې د تعقيب لاندې نيول شويو دوسيو نورم او يا هم دواړه وي.

- دا ښه ده چې د کانونو راويستلو سکټور په اړه يوه روښانه طرح شته، کومې چې له اداري فساد سره ژور توافق موندلی چې راتلونکو عايداتو لپاره يوې کليدي سرچينې باندې اوړيدو ته اړتيا لري. دا ښه طرح ده خو د لاندينيو اضافه کولو په واسطه نوره هم پياوړي کيدای شي:

" ددې لپاره چې د استخراجي صنايعو د روښتيا نوښت (EITI) ته د دولت ژمنه عملي شي، د کانونو راويستلو په هغه قانون کې چې ولسي جرګې ته سپارل شوی بايد د ۲۰۱۸ کال لومړۍ نيايي پورې دغه تعديلات شامل شي لکه: د هغوي د اعتبار د شرط په توګه د کانونو راويستلو د قراردادونو خپرول، د کانونو راويستلو

قراردادونو د ګټورتیا مالکیت تشخیص، د کانونو راویستلو ټول سکټور د تادیاتو او رسیدونو لپاره د یو واحد او شفافه بانکي حساب ایجادول، د کانونو راویستلو بودجې برابرولو لپاره د منرالونو د حقونو تعینول، د فورس ماجیور (د طبعي آفاتو)لپار ځنډ، د شخصي ځمکو د څښتنانو حق، د کانونو راویستلو قراردادونو تطبیق ته د هغوي د خپرولو پورې تړاو ورکول، او تر ۲۰۱۸ کال پورې باید د منرالونو مالي رژیم چمتو شي"

- اداري فساد سره د مبارزې په **اړه نړیوالو تمویلونکو لپاره هیڅ طرحي** نشته. یوه یې کیدای شي دا وی چې: ټول نړیوال تمویلونکي په دې اړه یوې خپلواکه کلنی بیا کتنې ته ژمن دي چې ایا هغوي افغانستان کې د خپلو مرستو کارولو کې د اداري فساد زیانمننو په راکمولو کې کامیابیږي او که ناکامیږي. هغه څه چې ملت ورته اړتیا لري د تمویلونکو له خوا د یو داسې آزاد وضعیت رامنځته کول دي په کوم چې په انفرادي او ډله ییزه توګه د اداري فساد ضد خطرونه موندل کیږي او دا چې ډونران یې په مقابل کې څنګه غبرګون څرګندوي.

وګړو لپاره اندیښنه

د هغه ډول اداري فساد په اړه چې خلک ورسره ډیر مخ کیږي یوازې یوه طرح شته او هغه د خدمتونو ساده کولو او په یو ځای د هغوي بشپړولو په اړه ده (۱۳ طرح). خو دا برخه عیبونه لري. لومړی، دا خدمتونه داسې نه ښکاري چې تر اوسه مشخص شوي وي او وزارتونه یې کیدای شي د خلکو لپاره بې ارزښته وګڼي او وروستي پړاو کې ورپسې لټه وکړي. دویم، داسې ګمان کیږي چې ساده کول د اداري فساد د کمولو په مانا دي. افغانستان کې د MEC کمیټې تجربې دا ښودلې چې ساده کول هرو مرو خلکو څخه د بډې اخستنې بار نه کموي نو له دې امله د خدمتونو وړاندې کولو په پروسه کې د اصلاحاتو راوستلو په موخه د اداري فساد ضد یوې طریقې رایجولو ته اړتیا ده. بالاخره، د خلکو د عاجلو اړتیاو پوره کولو لپاره وختونه ډیر وړاندې دي. خلک باید ولې تر ۲۰۱۸ کال پورې انتظار وباسي او وګوري چې د خدمتونو وړاندې کولو یوې سرچینې دري اداري جوړې شوي او هغه هم یواځې په کابل کې؟ خلک باید ولې د ۲۰۱۷ کال تر یوې نا څرګندې نیټې پورې انتظار وباسي او وګوري چې په کلیدي خدمتونو کې د اصلاحاتو پروسه پیل شوې؟

ایډیټرانو لپاره یادداښتونه

1. **مخکینۍ لنډمهاله ژمنې .** په ۲۰۱۴ کال کې د لندن کنفرانس څخه وروسته، لوړ پوړو چارواکو د ۲۰۱۵ کال په سپټمبر کې د نوي SMAF (د دوه اړخیزه حساب ورکونې چوکاټ له لارې خپل ځاني اعتماد) یوې برخې په توګه د لنډمهاله ژمنو یوې مجموعه باندې موافقه وکړه. په دې مجموعه کې ۳۹ لنډ مهاله طرحې معرفي شوې چې تقریباً ټولې یې اداري فساد سره د مبارزې کولو یوه برخه لري. چې یا په مستقیمه توګه دي لکه د وزارتونو له خوا اداري فساد سره د مبارزې کولو پلانونو جوړیدل او یا هم په غیر مستقیمه توګه دي لکه د ملي تدارکاتو کمیسیون له خوا د خدمت معیارونو په منلو کې او د نوي لوی څارنوال ګمارنه کې.

دولت په دغو شاخصونو کې ښه پرمختګ کړي لکه څنګه چې د مالیې وزارت له خوا د ۲۰۱۶ سپټمبر په رپوټ کې د خپل پرمختګ په اړه رپورټ ورکړل شوی دی.

۲. **د ۵ کاري پلانونو په اړه د څارنې او ارزونې کمیټې شننه.** MEC د ۵ پلانونو په اړه یوه مفصله شننه ترسره کړې او دغه شننه یې دولت ته لیږلې ده. دغه شننه په جلا توګه د څارنې او ارزونې کمیټې څخه موندل کیدای شي.

3. **د ولسي جرګې وکیلانو او ولایتونو والیانو له خوا د شتمنۍ ثبتول.** د MEC له خوا د څارنې عالي اداري د معلوماتو د کتنې له مخې د ولسي جرګې ۲۵۹ غړو څخه یواځې دوه تنو[1] او ۳۴ والیانو څخه ۱۱ تنو یې خپلې شتمنۍ ثبت کړې دي.